**لیکونکی** : م. ک . بهادرکمار (M.K.Bhaderkumar) .
**منبع او خپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ « 2019-04-02» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# دچین دخلکو آزادی بخښونکی پوځ په ونزویلا کی دلوبی بدلونکي

*China's people Liberation Army in Venezuela is Game changer*



د یو را رسید لی راپور له مخی ددی اونی په وروستیو کی د چین دنظامی پرسونل یوګروپ ونزویلا ته را رسید لی دي کوم چی بی له شکه په نړی کي خورا ډیر یو مهم پیښه ګڼل کیږي .

سربیره دروسیی کوم چی هغه هیواد په بهرکی د خپل نظا می ځواکونود پلی کولو تا ریخ لری ، دا د **چین** د نظا میا نو یوله خورا ډیر مهم اونا در یا کمیا ب حرکت دی چی ترسره کیږي .که څه هم **چینیا ن** په افغانستان او سوریه کی دتروریستی ګروپونو په وړاندی دجګړی په برخه کي خپل حیاتی ګټی په خطر کی لیده اما بیا هم د د ا سی ډول ګوما رنی له خپرولوڅخه ډډه وکړیعنی چی چین دا فغا نستا ن اود سوریی په جګړو کی ځا ن ښکیل ونکړ.

را رسیدلی را پوروونه داسی په ډاګه کړل چی د **چینیا یی** نظا می پرسونل ګروپ چی دهغو شمیر (120) تنو ته رسیږی دما رچ دمیا شتی په (28) ورځ د **مارګریتا** په ټا پو ، **کارایب سمند ر** کوم چی دونزویلا اصلی قلمرو دی هلته دخپل ځان سره راوړي بشری او نظامی مرستی سره پلی شو چی وروسته د ونزویلا دولتی چا رواکو ته خپل مرستی تحویل ورکړ اوبیا هغوی یعنی دغه **چینیا یی** نظا می پرسونل په ونزویلا کی دهغه هیواد یونظا می مرکز ته په ظاهر کی ولیږدول شول .

دولتی سرچینی دیاملرنی له مخه ونزویلا ته دچینایی پرسونل را رسیدل په اړه په بین المللی مطبوعا تو کی کم راپور ورا ندی کړی اما سره دهغه دا ستکهلم نړیوا ل سوله ایز انستیتوت دراپور په حواله د(349) میلیون دالر په ارزښت سره سلاح له **چین** څخه یواځی له کال (2010) نه تر کال (2014) پوری ونزویلا ته تحو یل ورکړ شوی دی . دغه مرستی په لمړیو کی یو څه نظا می پیچلی تجهیزات لکه راداری دیپلوتانو دروزنی لپاره الوتکی ، ثقیله نقلیه وسایط او دنظامی ځای ناست قطعاتو لپاره مهمات وه اما هغه تجهیزات چی له کال (2017) کی هغه هیواد ته ولیږدول شو زرهی ټانکونه ، جنګی مهمات ،نظامی یونفورم ، د پیاده نظام لپاره جنګی مهمات ، خوراکی مواد (ammunition) اوهمدارنګه دروسی په لاس سره جوړ شوی ځنی مهما ت وه چی ونزویلا ته ورکړل شوی دي.

یوه اونی وړاندي دونزویلا لپاره نژدی (100) تنه روسی پوځی پرسونل دپوځی چورلکو رونیز مرکز تا سیس کړ. اما د **چین** دخلکو دآزادی بخښونکی پوځ ماموریت تر اوسه بشپړ روښانه نه دی چی دغه پو ځیان د څه دپا ره هغه هیواد ته تللی دي ، اما دبهرنی سیا سیی موضوعا تو په نظر کی نیولو سره د مسکو اود بیجینګ ترمینځ په بین المللی موضوعاتو با ندی همغږی شتون لری . چی دا پخپله په بشپړ توګه د پا م وړ موضوع دی چی دا دواړه هیوادونه په همغږی سره ونزویلا ته مرستی رسوی .

دلاس انجلس تایم دیو راپور په حواله دروسی اود چین هیوادونه دواړو په ونزویلا کی پا نګونه کړی دي ، اما **چین** د روسیی په پرتله دلته یعنی په ونزویلا کی زیا ت پانګونه کړی .

د کا ل (2016) تر پایه پوري چین ونزویلا ته (62) ملیارد دالر پور ورکړی چی کاراکاس به دغه پور **چین** ته به د تیلو په ورکولو سره بیرته ادا کړي .

مسکو په څو تیرو کلونو کی ونزویلا ته (17) ملیارد دالر دپور په بڼه مرسته کړی وه او د د سمبرپه میا شت کی دواړه دولتونه یعنی ونزویلا اوروسیه سره یو تړون امضا کړ چی ددی تړون له مخی روسیه تر (6) ملیارد دالرو پوری دونزویلا دنفتو اود طلا په پروژو کی پانګونه کوي .

ما لی کارپوها نووایی چی روسیه اوچین ونزویلا ته دوه اصلی پورورکونی هیوادونه

دی چې د « ما درو » د حکومت دسا تلو اصلی اقتصا دی څواکونه دی چې دپور ورکولو اود افلا س تر مینځ توپیر را مینځته کوی یعنی دهغه حکومت له سقوط یا بحران څخه ساتي .

لاندنی انځور د **چین** دسمندری دکشتی یوه روغتون دی چې د ونزویلا د **ګوایرا** (Guaira) بندر ته د د سا مبر په (22) کال (2018) کی را رسیږي .



په هر صورت په زړه پوری خبره دادی چې لاس انجلس تایم پخپل راپور کی داسی یو تفاوت یا داسی دیو تمیز سپیناوی کوی اوهغه داچې په ونزویلا کی چین او روسیه دخپل ما لی ژمینتیا (تعهد ا تو) په اړه سره متفا وت روش تعقیبوی اوهغه داچي چینا یا ن ډیر(عمګرا) او روسا ن ډیر (ایدیولوژیک) روش ترسره کوی ، **بیجینګ** دخپل پانګونی له مخی په ونزویلا کی داومه موادو ، ارزان قیمته نفت اوځنی نورو اقلا مو دتر لاسه کول په لټه کی دی اما **مسکو** ډیر تلوسه لری چې په ونزویلاکی نظامی حضور پیداکړی چی دامریکي سره نه چندان لیری په ساحل کی دامریکی تر زنی لاندی مسقر شی .

**روسان په ونزویلا کی دامریکا دمتحده ایالاتوپه مخکی دخپل لاس دستکشی را با سي :**

دونزویلا دسا تنی په مورد کی دروسیي پا نګونه ادهغه نظا می قدرت نما یی دتل د پاره دامریکی د زرورو ګاونډ یا نوته د خپل توان ښود ل دي . کرملین تل هڅه کړی دي چی هغه څه وتاکی یا هغه تقلید خپله کړي چی متحده ایالات **او نا تو** دخپل بهرنـي پا لیسي په مطا بقت د مسکو په اغیزمن ساحو کی لکه په ختیځی ا روپا ، مخکینی شوروی اتحا د اوپه تیره بیا په اکراین کی تر سره کولی .په حقیقت کی مسکو په ونزویلا کي دامریکی د متحده ایالاتو لاس وهنه د**چین** په پرتله زیا ت و غند له اود همد ی اصل له مخی **مسکو** دونزویلا دموجوده بحران د له مینځه وړلو په خا طر د د یا لوګ او دمذاکراتو کلک غوښتونکي دي -په متحده ایالاتو کی زیات شنونکي داسی انګیرل چې **چین** حتی ممکن خپل باورپر **نیکلاس ما درو** باندی دلاسه ورکړي وی اوهغه داچې چینا یي چاروا کی خپل سر د تیټ د یوال تر شا پټ کړی او په دی لټه کی دی چې ونزویلا ته د پور ورکولو اود نورو معا ملو په د تر سره کولو باندی پر خپل مشق اوتمرین با ندی زیا ت تمرکز وکړي.

*مګر ددی آ سا نه یا ددی آرام فرضیيي په نظر کی نیولو سره کوم چي په یو ناڅا پی بڼی سره د **چين** د خلکو آزادی بخښونکی پوځ یو ګروپ دونزویلا د **ما رګریتا** په جزیره کی چی د سیلا نیا نو د رخصتی ورځو د تیرولو د پاره دښوی شګی اود کرنا (mongraove) اونو په لرلو سره یو ډیر په زړه پوری ځا ی دي هلته پلی کیږي. نو د **چين** دپوځیا نو رسید ل دی تا پو ته د **چينیا نو** دا رزونی له مخی یو دلیل کیدای شی دا اووسی : سره دهغی چي په ونزویلا کی دهری ورځی په تیریدو سره شخړی زیاتیږی اوهغه هم په دی عدم اطمینان چی په نوموړی هیواد کی غبرګ قدرت باقی پا تی دی اولیری نه ښکاری چی د ونزویلا ګاونډی هیوادونه د پناه هند ګا نو په را تګ سره خپل نا رضایتی ښکاره نکړي اوهمدارنګه دا سی کوم نښی اونښا نی هم نه تر سترګو کیږی چی دامریکی متحده ایالات په ونزویلا کی در ژیم دبد لون په اړه خپل هڅی کمه کړی اوهم په همدی ورته وخت کی یو متوازن توپیر هم شتون لري چی په دی وضیعت کی غالب شوی دي اوهغه په دی دلیل چی په نزاع کی دواړه ککړی خواوی له کوم تاکونکي امتیا ز اویا ګټی ځخه برخه من هم نه دي .*

*په هرصورت د لته اوس یو کم زوره جګړه د ختمید و په حال لیدل کیږی چی کیدای شی ودریږی که چیری دواړه خواوی له صبر او تحمل ځخه کا ر واخلی کوم چی دا هیله اوس یوځه لیری ښکا ري .*

*د روسی کا رپوها نو له نظره د امریکی د متحده ایالاتو د لاتینی امریکی د متحدا نو له خوادامریکی پواسطه سره دځوک وهلو تمه ورل کیږی اوهغه داچی هغوی له امریکی ځخه غواړی چي په دی برخه کی چټک ګامونه پورته کړی ، اماواقیعت دادی چی نور هیچا ته صبر او زغم پا تي نه دي اوهریو غواړي چی په مستقیم بڼی سره په ونزویلا کی درژیم د بد لون د پاره نظا می مداخله تر سره شی .*

*له بلی خوا ځخه داسی هم په نظر راځی چی واشنګټن له نظامی مداخلی ځخه هم په ډار کی دی چی منفی عواقب را مینځته نکړی اوکیدای شی چی د نظا می مداخلی پا یلی ډیرنا مطلوب ا ووسی اوهغه داچی دونزویلا خلک دامریکا دمتحده ایالاتو دښمن وګرځی اود امریکی په وړاندی خپل بد بینی اوکرکه ښکاره کړي .اودلاتینی امریکی په هیوادونو کی اړ ودوړ رامینځته نشی ؟*

*نو په دی صورت سره دروسیی دنظامی پرسونل ونزویلا ته ور ننوتل دواشنګټن قهر اوغضب را پارولی دی لکه همغسی چی په مسکوکی دهغه هیواد دبا ند نیوچارو دمسول مقاما تو له طرفه د مارچ په (30)کی د امریکی دمتحده ایالاتو دملی امنیت دمشاور جا ن بولتون دهغه شد ید وینا په مقا بل کی غبرګون ښکاره کړ کوم چی د ا مریکی د متحده ایالاتو د ملی امنیت مشر مسکو ته اخطا ر ورکړ چی مسکو د خپل دغه وروستی اقدام سره غواړی چی نه یوازی په ونزویلا بلکه دلوید یزی نیم کری په هره ځای کی خپل*

نظا می حضور پیدا کړی چی دا ډول تحریک امیز اقدام په منطقه اوهم په بین المللی برخه کی سوله اوامنیت په خطر کی اچوی چی زمونږ له نظره دا پخپله یو مستقیم ګواښ اوتهد ید دی کوم چی زمونږ د تحمل وړ نه ښکاري .

اما دروسیې دبا ند نیو چا رو دوزارت ویاند **د جا ن بولتون** اخطا ر اویا دهغه خبرتیا له سره رد اود هغه دوینا په مقا بل کی د مسکو غبرګون اودریځ په ډاګه کړ، اوداسی ادعا وکړ چی که څه هم دجیوګرافیکی له نظره دروسیې چوکوتکا (chukotka) تا پو دلوید یځ په نیم کره کی پروت دي . مسکو په هیڅ صورت سره په ونزویلا کی دخبل نظامی حضور دپراخوالی او ځای پرځای کیدو په لټه کی نه دي ، داسی ویل کیږی چی د ونزویلا سره د مسکو مشروع مرستی امریکا یا ن دی ته هڅولی چی د روسی په وړاندي د تحریمونو په وضع کول سره مسکو وډار کړی اوپه یو اوبل ډول مسکو ته بی احترامی وکړي .

دروسی دباندنیو چارو وزرات داسی تاکید وکړ چی دامریکی دمتحده ایالاتو هغه پروګرام کوم چي غوښتل په کا راکا س کی رژیم ونړوی یا رژیم ته بدلون ورکړی د پوره ما تی سره مخامخ شوی دي او امریکی دخپل ډاد منتیا سره واشنګتن په ناڅاپی بڼی سره دلاتین امریکی او ولوید یځ اروپا کی د هغه کسا نو غږ را ټیټ کړچی هغوی په ونزویلا کی دیومنحرف اومتجا وز سړی چی هغه نه انتخا ب شوی وه او نه هم په انتخا با توکی د ونزویلا د جمهورریس په توګه ټاکل شوی وه دهغوپه خولوباندی برغولی کیښود. اود اځکه چی که چیری وضع په همدی حال کی پانی شی نو هغوی به دهر ډول مزاکری اومرکی څخه به په راتولونکي کی به محروم شی اودبلی خواڅخه مسکو اعلام وکړچی هغه هیواد هرڅومره چي توان اوقد رت لری ، خپل توان په کا ر اچوی چی د ونزویلا موجوده کشالی د دیالوګ اودمرکی دلاری پوا سطه سره حل وفصل کړي اوپه عین حا ل کی مسکو په کلکه سره اعلام وکړ چی هغه نه په ونزویلا اونه هم دامریکی په نژدی سواحلو کی د نظا می حضور په لټه کی دي .

په ښکاره بڼی سره دروسیې سخت او زیرکانه دریځ چی ډیر زیا ت وخت ونیول ، چین یی وهڅول چي خپل موقف ته بد لون ورکړي اوپه دی برخه کی خپل فعال نقش ولوبوی نو بی له کوم شکه اوس مسکو او کوبا دچین دغه اقدام څخه هرکلی کوي .

که د روسی اود کوبا حضور په ونزویلا کی د **ترا مپ** د اداری لپا ره په کا فی اندازی سره بد ، وی نو د **چین** د خلکو دآزادی بخښونکی د پوځ حضور په ونزویلا کی هغه تریخ تا بلیت ته پا تی کیږی چی دهغه تیرول یا بلع کول هومره آسا نه هم نه دي ، ا وبیا په ځا نګړی بڼی سره په لاتین امریکا کی د **چین** د پوځ پراخ حضور یا ځا ی پر ځای کیدل چی دا پخپله هغه نوی تمرین دی چی **چینی** او **روسی** نظا می ځواکونه په ګډه سره غواړی چي پخپل حضور سره دونزویلا د ګټی څخه سا تنه وکړی اویا دهغه ګټی تضمین کړي .



***. د چین د خلکو دآزادی بخښونکی پوځ هوایی ځواک پروسږکال د می په میاشت دخپل (Y-20) ستراژیک ترانسپورت الوتکو په کارولو سره دروزنی تمرین تر سره کړ***

مسکو اوپکن په ډادمن توګه سره **د** ***دونالد ترامپ*** دورستی اعلامی پرمحتو یا تو باندی پوه شوی دی کوم چی هغه یعنی ***دونالد ترامپ*** غوارِی چی د خپل روسیی او چینی سیالانوسره دونزویلاپه اړین خبری اتری وکړی کوم چی داهم ښه دی چی هغه د نظا می مداخلي په هکله هیڅ یادونه نه دی کړی یا نظا می مداخله له خپل نظره اچولی دی او دا مهم نه دی چی امریکا یی مقا ما ت څه وینا کوی اویا څه ابلتي وايي ؟

بی له کوم شک او ترد ید څخه د **چین** د خلکو د آزادی بخښونکی پوځ ، ونزویلا ته لیږدول دونزویلا پرموجوده کلا بند شوی اوضاعو باندی هرومرو خپل اغیزمن رول تر سره کوي ، د**چین** دا اقدام په واقیعت کی دخپل توان او چمتوالی ښودل دی کوم چی چین غوارِی د ***ما درو*** (Maduro) کلابند شوی حکومت له نسکوریدو څخه وسا تي ، **بیجینګ** نه یوازي دا روښا نه کړ چی هغه دونزویلا د دولت په سا تنه کی خپل ونډه تر سره کوی بلکه هغه د خپل نړیوال نفوذ د پراختیتیا لپا ره هم د تا یید مهر ولږول –

او له بلی خواڅخه **چین** د ***مونرو***(Monro) دکترین هم رد وی یعنی د ***مونرو*** دکترین نه قبلوی کوم چی دا پخبله له مختلفو اړخونوڅخه دنړي په پا لیسی کی دپیښی شیبی دي .

------------------------------------- ***په درناوي*** (2019-04-08)